# له هغه څه نه چې ما تاسو ته منع کړي یاست، له هغې څخه ډډه وکړئ او په هغه څه مې چې درته امر کړی، څومره چې کولی شئ هغه پر ځای کړئ، ځکه چې ستاسو څخه مخکې خلک د دوی د ډیرو پوښتنو او د انبیاوو په وړاندې د دوی د مخالفت له امله هلاک شوي دي.

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روایت دی فرمایي: له رسول الله - صلی الله علیه وسلم - څخه مې اوریدلي دي چې فرمایل یې:« له هغه څه نه چې ما تاسو ته منع کړي یاست، له هغې څخه ډډه وکړئ او په هغه څه مې چې درته امر کړی، څومره چې کولی شئ هغه پر ځای کړئ، ځکه چې ستاسو څخه مخکې خلک د دوی د ډیرو پوښتنو او د انبیاوو په وړاندې د دوی د مخالفت له امله هلاک شوي دي».
[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - مونږ ته لارښوونه کړې چې کله هغه مونږ له کوم کار څخه منع کړو، نو موږ باید له استثنا پرته له هغه څخه ډډه وکړو، او که هغه مونږ ته د یو کار امر وکړي، نو باید چې د توان په اندازه پرې عمل وکړو. بیا یې موږ ته خبرداری راکړ تر څو د پخوانیو امتونو په څیر نه شو، چې هغوی د - خپلو پغمبرانو - په وړاندې د مخالفت سره سره له هغوی ډیرې پوښتنې کولې، نو دوی ته الله - تعالی- په بېلابیل ډول هلاکولو او ویجاړولو سره سزا ورکړه، نو موږ باید د هغوی په څېر نه شو، تر څو د هغوی په څېر هلاک نه شو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4725

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee